مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان ۲۰۲۳/۰۳/۲۴

# مینه لیک

مهرباني مریم!
یوه میاشت او دوه ورځې وروسته درته خط لیکم.
ستا له تلو وروسته کندواله شوي کلي نه وتلی یم، نیږدې کال پوره شو، چې د مخامخ واورینو غرونو په لمنو کې یم، هغه غرونه چې تا به هر مازدیګر د کور له بامه ور کتل او ویل دي: اه... څه یوه ورځ به وي، چې دې غرونو کې د هوسیو له معصومو بچیو سره روانه یم او هر ګل مې په سر بشکته کولو هرکلی کوي!!
تا ته څه الهام شوی و چې هلته هوسی او ګلان شته؟ ځکه دا رښتیا دي چې دلته ګڼې هوسی او بچیان یې شته. له انسانانو ډیر زږه سوانده دي او کله هم چې د غره په شنو لابنونو کې یوې او بلې خوا ته ټوپونه وهي؛ ما ته تا رایادوي.
غوره یې دا چې دلته هیڅ ګل هم د چا هرکلی نه کوي؛ خو که څوک مین وي؛ ورتلو ته یې خوشحالیږي. دا چې زه پر تا مین وم، نو ما ته یې هم د تعظیم سر ښکته کړ او اړ یې کړم چې زړه کې ستا تقدس ومنم.
خوږې مریم!
ما تل پوښتل چې نوره نړی ولې زموږ په خیر نشي کېدای؟ نن مې چې پوست خاني ته لیک رساوو؛ ځواب مې پیدا کړ.
زه د پوست خاني یو عادي مامور ته ورغلم او شکایت مې وکړ چې ولې زما لیکونه په وخت نه رسیږي؟
هغه ویل: ستا لیک به چندان د کار نه وي !
پوهېږې څه مې وکړل؟
مامور ته مې زموږ د مینې لیک ور واوروه او کله چې ختمېده؛ نو تر شا مې یوه نړی خلک ولاړ وو، چې زما له چوپیدو سره یې یو دم وخندل.
په همدې ځای کې پوه شوم چې دوی مینان نه دي؛ ځکه زموږ په خیر نشي کېدلی!
نوره اړتیا نشته چې تا ته همدا تکراري پوښتنه بیا بیا ولیکم؟
ما خپل ځواب ترلاسه کړ.
موږ ځانګړي یو؛ بیخي ډیر ځانګړي!

لیک: سمسور ودان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولۍ